قسط: 1

# داچھے میاں ښې خبرې

پښتو






پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمہ:
ٹرانسلیشن ڈپارٹمنٹ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د اچھے میاں ښې خبرې

**دُعائے عطار**: یا ربَّ المصطفٰی! څوک چې دا رساله "د اچھے میاں ښې خبرې"اولولي که واوري. هغه د خپل بنده اچھے میاں رحمۃ اللہ علیہ په وسیله ښه انسان جوړ کړې او هغه بے حسابه اوبخښې-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صلی اللہ علیہ والہ وسلم

## د دُرُود شریف فضیلت

د بُخارا (اُزبکستان) اوسیدونکے یو کَس مارِهره شریف ته حاضر شو او د ماسپخین لمونځ ئې په خانقاه شریف کښې ادا کړو او د سلسلۂ قادریه رضویه عطّاریه د لوئې بُزرګ شمسِ مارِهره حضرت سیِّدُنا ابُو الفضل آلِ احمد المعروف " اچھے میاں" رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: "د حضرت نوم اوریدو سره د حق د طلب د پاره دلته راغلے یم ځکه چې په ما کښې د مُجاهدې کولو طاقت نشته د حضور په توجو سره بے محنته دا عظیم فیض حاصلول غواړم-" هغوئې رحمۃ اللہ علیہ مُسکې شول او ارشاد ئې اوفرمائیلو: دومره غټ دولت دومره زر حاصلول غواړې؟ په ناستو خلقو کښې یو کَس اووئیل چې دا هم څه حلوه ده څه چې ستا په خُله کښې کیښودے شي؟ حضرت اوفرمائیل: " داسې مه وایه، د الله (په رحمت) سره څه ګرانه نه ده-" بیا ئې هغه ځلمي ته د یو دُرُود شریف په خاص طریقه هم په دغه شپه د لوستلو د پاره اوفرمائیل- هغه حکم اومنلو- د شپې چې هغه دُرُود شریف لوستلو نو هغه ته د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مدني، محمدِ عربي صلی اللہ علیہ والہ وسلم د زیارت کولو شرف حاصل شو- په هغه باندې یو کیفیت راغلے په کوم چې د هغه باطني مُعامله حل شوه- سحر هغه د هغوئې رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو- سُبْحٰنَ اللہ! حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم ماته په خوب کښې ارشاد اوفرمائیلو: د هرې صدۍ (یعني د سلو کالو) نه پس به زما په اُمَّت کښې یو داسې کَس وي کوم چې به زما دین ژوندے کوي په دې صدۍ کښې هغه "ذات (کَس)" تاسو ئې-

(تذکره مشائخِ قادریه رضویه، ص 362 بتغیر)

د اللہ رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِيْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | | |
|---|---|---|
| دِل کو اچھا تن کو ستھرا | | اچھے پیارے شمس دِیں |
| جان کو پُر نور کر | | بدر العلیٰ کے واسطے |

د لفظونو معاني: تَن: بدن- شمسِ دِیں: د دین لمر- بدرُ العلیٰ: د لوړ والي سپوږمۍ-

شرحِ شجره شریف: یا الله پاکه! د حضرت سَیِّد شاه آلِ اَحمد اچھے میاں مارِهروي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسیله باندې څوک چې د دینِ اسلام لمر او د لوړ والي سپوږمۍ ده، زما زړه ښه، بدن صفا او رُوح د نور نه ډک کړې-

اٰمِيْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مُبارک خاندان

د سلسلۀ قادریه رضویه عطّاریه لوئي بُزرگ شمسِ مارِهره حضرت سیِّدُنا ابُو الفضل آلِ احمد المعروف "اچھے میاں" رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 28 رمضانُ المبارک 1160 هجرئ په مارِهره مطهره (ضلع ایټه اُتر پردیش) هندوستان کښې دنیا ته تشریف راوړو- د هغوئي خاندان مُبارک د حُسیني زیدي ساداتِ کرامو نه دے- (احوال و آثار شاه آلِ احمد اچھے میاں مارهروی، ص 19 بتغیر)

## د غوثِ پاک فیضان

د هغوئي د زیږیدلو شریف په وخت نیا ابئ (د پلار د طرفه نیا ابئ) د صاحبُ البَرَکات حضرت شاه برکتُ الله عشقي مارِهروي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه خرقه (جامې) مبارکه کومه چې د بغداد شهنشاه حضورِ غوثِ پاک حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اشاره باندې د هغوئي سره حضور اچھے میاں ته د اچولو د پاره د امانت په طور اینښودې وې هغوئي ته واچولې او د صاحبُ البَرَکات رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان مطابق ئې د هغوئي نوم "آلِ احمد" کیښودو- نیا ابئ به ئې اکثر فرمائیل چې دا ماشوم به زمونږ د خاندان د پاره د فخر سبب جوړیږي- حضرت آلِ احمد اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مادر زاد (یعني پیدائشي) وَلي وو او لکه څنګه چې حضور غوثُ الاَعظم د حضور نبي

کریم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مظهر (نخبنه) وو هم داسې هغوئي هم د غوثِ پاک مظهر (نخبنه) وو- (برکاتِ مارهره، ص 71بتغیر) اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ عرض کوي:

یا ابوالفضل آلِ احمد حضرتِ اچھے میاں || شاه شمس الدّین ضِیاءُ الْاَصْفِیا امداد کُن

ترجمه: اے حضرت ابو افضل آلِ احمد اچھے میاں ! بادشاه، د دین لمره او د صوفیانو ضیا! زما مدد اوکړې-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دنیا ته د راتلو زیرے

سلطانُ العاشقین سید شاه برکت الله رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ ارشاد فرمائیلے وو: د الله پاک په فضل سره به ماته یو ځوي عطا کیږي کوم چې به د خاندان سوکالۍ ته وده ورکوي- بیا هغوئي خپله یوه خِرقه (یعني جامې شریفې) عنایت اوفرمائیلې او حکم ئي اوکړو چې دا د هغوئي د ځوي د پاره دي- د حضور صاحبُ البرکات رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ مشر ځوي حضرت شاه آلِ محمد رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ حضرت اچھے میاں د بسم الله د رسم په موقع باندې هغوئي په غیږ کښې واخستل او اوئې فرمائیل: دا هغه شهزاده دے د چا زیرے چې والدِ محترم راکړے وو-

(تذکره مشائخِ قادریه رضویه ، ص 358 بتغیر)

شمس و قمر سے بڑھ کر ہے شانِ آلِ احمد || قربان آل احمد قربانِ آلِ احمد

## ظاهري او روحاني اُستاذ

هغوئي ظاهري او باطني علوم د خپل والدِ محترم حضرت شاه حمزه عیني رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ نه حاصل کړل او د والدِ محترم نه ورته خلافت هم حاصل شو- د هغوئي روحاني تعلیم او تربیت نیغ په نیغه د بارګاهِ غوثیت نه اوشو، ځکه وئیلے کیدے شي چې د هغوئي روحاني اُستاذ حضورِ غوثِ اعظم رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ وو- (تذکره مشائخِ مارهره، ص 18) هغوئي د سلسلۀ قادریه رضویه عطاریه 36 پیر او مُرشد دي- هغوئي ډیر د کمال او عارِف بالله یعني د الله پاک پیژندلو والا بزرګ وو-

## د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راتلل

د حضرت آلِ احمد اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وراره سَیِّد شاه غلام محيُ الدّین صاحب د خپل وړوکوالي یوه واقعه لیکي: چې یو ځلې حضرت اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سجاده نشینئ (آستانې) په کور کښې یواځې وو او چا ته د دننه تللو اجازت نه وو- په دروازه کښې یو خادم (خدمت کوونکے) ناست وو- زه په لوبو لوبو کښې تر دروازې پورې اورسیدم او دننه مې تلل غوښتل- خادم منع کړم خو زه زر دننه لاړم- ما اولیدل چې حضرت د دوؤ بزرګانو سره ناست دے او څه خبرې ورسره کوي، زه په قلاره قلاره لاړم او د هغوئ د ملا مبارکې نه مې لاس چاپیره کړل، حضرت مخ مبارک راواړولو او زما په لیدو ئې څه خفګان شان څرګند کړو او اوئې فرمائیل: ولې راغلې؟ ما په (نا غرضتیا) کښې عرض اوکړو: ستاسو په وَلو به کښینم- دا ئې چې واوریدل نو هغوئ او هغه دواړه بزرګان مُسکي شول او بیا هغه دواړو بزرګانو زما په سر باندې لاس مبارک راښکل او مینه ئې راسره اوکړه- د دې نه پس هغوئ د هغه بُزرګانو سره دننه تشریف یوړلو- لږ وخت پس چې حضرت اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یواځې بهر تشریف راوړلو نو ما عرض اوکړو: هغه دواړه حضرات څوک وو او هغوئ چرته لاړل؟ هغوئ اوفرمائیل چې یو حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او بل سیّد شاه جلال صاحب مارِهروي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو، دا حضرات کله نا کله د کرم نظر اوفرمائي او تشریف راوړي او اوس هغوئ تشریف یوړلو-

(برکاتِ مارهره، ص 71بتغیر)

| | |
|---|---|
| خُداوندا برائے آلِ احمد | نصیبم کُن لقائے آلِ احمد |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب | صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## سجّاده نشیني (ګدئ سنبالول)

حضرت سیّد آلِ احمد اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د والدِ محترم د وفات نه پس د خانداني دستور (یعني طریقې) مطابق د سلسلۀ برکاتیه په مسند تشریف کینبودو او تقریباً تر 37 کالو د وِصال شریف پورې ئې دغه آستانه آباده اوساتله- (احوال و آثار شاه آلِ احمد اچھے میاں مارهروی ، ص27 بتغیر)

## عادتونه او معمولات شریف

حضرت سیّد آلِ احمد اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وخت غوث وو- د هغوئ د شپې او ورځې معاملې داسې

وي لکه څنګه چې د حضور غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ د يو کامِل مظهر (نمونې) پکار وي- د هغوئي ورځ به د الله پاک د مخلوق په خدمت او خير ښيګړه او د مريدانو په اصلاح او لار ښودنه کښې تيريدله او شپه به ئې د الله پاک په عبادت کښې تيريدله- د هغوئي مُريد حضرت مولانا مجاهدُ الدّين ذاکِر بدايوني رحمۃ اللہ علیہ ليکي چې: هغوئي به د شپې په آخرئ حصه کښې پاڅيدل او اودس به ئې کولو او د تهجدو لمونځ به ئې ادا کولو او بيا د سحر د وخت شروع کيدو پورې به په اَورادو او وظيفو کولو کښې مصروف وو او بيا به ئې جُمات ته تشريف يوړلو او تحيۃُ المسجد به ئې ادا کړل او د هغې نه پس به ئې د سحر سُنّت ادا کړل- د جَمعې سره د سحر لمونځ ادا کولو نه پس به ئې لاس اوچت کړل او د دين د ترقئ او د مسلمانو د بخښنې د پاره به ئې دُعا کوله بيا به ئې خانقاه (آستانې) شريفې ته تشريف يوړلو او د لمر راختلو پورې به په اَورادو او وظيفو کښې مصروف وو هغه وخت به دروازه بنده وه او چا ته به هم دننه د تللو اجازت نه وو- چې فارغ به شو نو کور ته به ئې تشريف يوړلو او د ټولو د خيريت پوښتنه به ئې اوکړه او بيا به ئې خانقاه ته واپس تشريف يوړلو- بيا به د هغه ځائے نه درګاهِ مُعلیٰ ته روان شولو، يو خادم به ئې د مخکښې نه د معمول په ځائے کښې د قبلې په لور جائے نماز اوغوړولو- هغوئي به وړومبے د والدِ محترم بيا د مور بي بي او د نورو خپلوانو مزارونو ته تللو او دعاګانې به ئې ورته کولې- (تذکره شمسِ مارهره، ص 19بتغير)

## د غرمې ډوډئ او قيلوله شريف

کله نا کله به ئې باغ ته تشريف وړلو او د جامن د وَنې لاندې به ئې دَرئ خوره کړه او کښيناستو به، بيا به ئې د هغه ځائے نه خانقاه ته تشريف راوړلو، هغه وخت به عام دربار وو، هر يو ګس به خپل ضرورتونه بيانول، غرمه به ئې د غنمو دوه يا درې وړې شان ډوډئ د خوروا يا د مَسورو د دالو سره خوړلې او قيلوله شريف به ئې کوله- (تذکره مشائخ قادريه رضويه ، ص360)

## د ماسپخين نه تر ماسخوتن پورې معمول شريف

د جَمعې سره د ماسپخين د لمونځ ادا کولو نه پس به د قرآنِ مجيد په تلاوت کولو کښې مشغول شولو او بيا به خانقاه شريف ته راغلے او دُرودِ پاک به ئې لوستلو، د مازيګر د لمانځه نه پس به ئې بيا خانقاه شريف ته تشريف راوړلو او د ماښام د لمانځه نه پس به ئې تسبيح لوستله او بيا به عام دربار لګيدلو- هغوئي به د خلقو انديښنې اوريدلې او د تسلئ ورکولو وروستو به ئې کور ته تشريف وړلو- د ماسخوتن لمونځ به ئې په جُمات کښې

د جمعې سره ادا کولو او بیا به ئې خانقاه شریف ته تشریف وړلو او دروازه به بنده شوله- هغه وخت به په خانقاه کښې خاص کسانو ته د حاضرۍ اجازت میلاویدلو-

(تذکره شمسِ مارهره ، ص 20)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ځانله عبادت کولو عادت جوړ کړئ

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** که څومره هم مصروفیات ولې نه وي د ځانله عبادت کولو عادت جوړول پکار دے- اوس د سلسلۀ قادریه د خوږ پیر او مُرشد حضرت سیّد آلِ احمد اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُبارک معمولات شریف بیان شول- تاسو هم د دې مطابق څه نا څه د قرآنِ کریم او د درود پاک لوستلو عادت جوړ کړئ- شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره ورځ کم نه کم د یوې سیپارې د تلاوت کولو ترغیب ارشاد فرمائي او د سلسلۀ قادریه رضویه عطّاریه خپلو مریدانو او طالبانو ته فرمائي: چې د قرآنِ کریم تلاوت کم نه کم یوه سیپاره تر خپله وَسه پورې د لمر راختلو نه مخکښې پکار دے او که چرې لمر راوخیژي نو کم نه کم 20 منټه صبر اوکړئ او په ذِکر او درود شریف کښې مشغول شئ تر دې پورې چې لمر ښه راوخیژي ځکه چې په کومو دریو وختونو کښې لمونځ جائز نه دے نو تلاوت خلافِ اَولیٰ دے- (شجره شریف، صفحه 22)

## دُرُود شریف ډیر زیات لولئ

امیرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په نیک جوړونکي د "72 نیک اعمال" د رسالې په 2 صفحه لیکي چې: آیا نن تاسو کم نه کم 313 ځل دُرُود شریف لوستلے دے- د زیات دُرُود شریف لوستلو په باره کښې په کتابونو کښې مختلف اقوال بیان شوي دي، یو محتاط قول د 313 (ځل لوستلو) هم دے- (سعادة الدارین، ص 54 ) ځکه که چرې څوک هره ورځ کم نه کم د 313 ځله درودِ پاک لوستلو معمول جوړ کړي نو هغه به په زیات درودِ پاک لوستونکو کښې شمیرلے شي- الله پاک دې مونږ ه د اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تلاوت او درود لوستلو په برکت د فضول خبرو نه بچ کړي او د زیات درودِ پاک لوستلو توفیق دې راکړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د جَمعې سره د لمونځ ادا کولو اهميت

د حضور اچھے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ټولې ورځې په معمولاتو کښې يوه بله خبره ډيره ښکاره وه چې هغوئې به پينځه واړه لمونځونه په جُمات کښې د جَمعې سره ادا کول- کاش! چې د اچھے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره محبت کوونکي هم دا ښه عادت خپل کړي- د حضرت عبدُ الله ابنِ عمر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چې الله پاک د جَمعې سره لمونځ خوښوي- (مسند امام احمد، 309/2، حديث: 5112) په يو بَل روايت کښې دي چې د جَمعې سره لمونځ د ځانله لمونځ کولو نه 27 درجې زيات دے-

(بخارى، 232/1، حديث: 645)

خدا! سب نمازيں پڑھوں باجماعت || کرم ہو پئے تاجدارِ رسالت

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## غيبي کتاب

حضرت اچھے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل د خپل وررور (سره) بِهار ته تشريف يوړلو او د خواجه يحيٰي علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مزار باندې ئې دعا اوکړه، د هغه ځائے نه په پالکي کښې د پاتي کيدو خپل ځائے ته واپس تللو چې يو درويش (فقير) ئې اوليدو چې په لاسونو کښې ئې کتاب نيولے دے او ولاړ دے، هغه درويش (فقير) وئيل: نن ډير سخت ضرورت دے دا کتاب په دوه روپۍ هديه کووم خوک چې د دې خواهش لري هغه دې ئې واخلي- حضرت اچھے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه وخت په وظيفه کښې مشغول وو، چې دا ئې واوريدل نو هغه فقير ته ئې اشاره اوکړه او د ځان خوا له ئې راوبللو او کتاب ئې د هغه د لاس نه واخستو او مخې ته ئې کيښودو او هغه له ئې دوه روپۍ ورکړې، چې د وظيفې نه فارغ شو او هغه کتاب ئې پرانستو او اوئې کتلو نو معلومه شوه چې هغه يوه "غيبي قلمي نُسخه" ده په کومه کښې چې د راز ډيرې خبرې ليکلے شوې دي- دغه کتاب د دې خاندان په رازونو کښې دے- (تذکره شمسِ مارهره، ص 71)

## يو نه درې ځامان ورته عطا شول (کرامت)

د حضرت سيّد آلِ احمد اچھے مياں مارهروي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو مُريد د کوم نوم چې خليفه محمد ارادتُ الله بدايوني وو هغه به هر وخت په دې فِکر کښې وو چې الله پاک هغه له يو ځوي ورکړي- يو ځل د حضور صاحبُ

البرکات حضرت سیِّدُنا برکتُ الله عشقي مارهروي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ په عرسِ پاک کښې د خپل مرشد (پیر صاحب) مخې ته ولاړ وو، د سخاوت دریاب په جوش کښې راغلے وو- ارشاد ئې اوفرمائیلو: خلیفه! څه غواړې؟ عرض ئې اوکړو: په غلام پسې څوک دعا کوونکے (یعني څوي) نشته، حضرت اوفرمائیل: یا الله پاکه! زمونږه ارادتُ الله له څوي ورکړې، د دې نه پس ئې اوفرمائیل: خلیفه! د وړومبي څوي نوم ''کریم بخش''، د دویم ''رحیم بخش'' او د دریم نوم ''الٰهي بخش'' کیږده- خلیفه ئې په ښپو پریوتلو او عرض ئې اوکړو چې حضور زما طمع نشته نو حضرت ورله خپله سرکلاه مبارکه (پټکے شریف یا ټوپۍ مبارکه) ورکړه او ارشاد ئې اوفرمائیلو: زما د الله پاک د ذات نه طمع ده، خلیفه ارادت الله واپس راغلے ډیر زر د الله پاک قدرت ظاهر شو- بیا ئې یو څوي اوشو، خلیفه د هغه نوم ''کریم بخش'' کیښودو- تر دې پورې چې په دریو کالو کښې ئې درې بچې پیدا شول او د دریو واړو نومونه ئې د حضرت اچھے میاں رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ د فرمان مطابق کیښودل، د الله پاک په عنایت سره درې واړه ځامن ئې ځلمي شول، دوؤ ځامنو ئې خپله پلارنۍ پیشه اختیار کړه او کریم بخش د مُرَوَّجه علومو نه د فراغیدو نه پس ''کریم اللغات'' نومې کتاب اولیکلو-

(تذکره مشائخ قادریه رضویه، ص 363)

| | |
|---|---|
| تمہارے منہ سے جو نکلی | کہا جو دن کو کہ شب ہے |
| وہ بات ہو کے رہی | تو رات ہو کے رہی |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## علمي خدمتونه

حضرت شاه آلِ احمد اچھے میاں رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ د ظاهري او باطني علومو سمندر وو- د علمائے کرامو ګرانې ګرانې مسئلې به ئې داسې حل کولې چې عقلونه به ورته حیرانیدل، د حضرت په لیکلو کتابونو کښې د ټولو نه لوئې کتاب ''آئینِ احمدي'' دے- په ''برکاتِ مارهره'' کښې دي: چې په ''آئینِ احمدي کښې عملونه، اَوراد، ذکرونه او اسرار حضرت لیکلي دي په دې کښې څلور جلدونه پخپله د حضرت په لاس مبارک لیکلے شوي په مارهره شریف کښې د حضرت حافظ حاجي سید شاه اسماعیل حسن صاحب رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ په کتب خانه (لائبریرۍ) کښې موجود دي-'' د دې کتاب ټول 34 او د یو قول مطابق 60 جلدونه په ډیر فراخه او مختلفو

علومو او هنرونو کښې وو- د دې ډېر جلدونه ضائع شول- ځينې ئې په خانقاه شريف او د خاندان د مختلفو حضراتو او خلفاؤ سره دي د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ځينو نورو کتابونو نومونه دا دي: ❁ بیاضِ عمل و معمول دوازده ماهي ❁ آدابُ السالکین مطبوعه ❁ تصوف میں مثنوی اشعار ❁ دیوانِ اشعار فارسی، وغیره- (تذکرہ مشائخِ قادریه رضویه:361۔ برکاتِ مارهره، ص80 ملخصاً وبتغير )

## د علومو او هنرونو انسائيکلوپيډيا

حضرت اَورنگ زيب عالمگير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خپلې زمانې د لويو لويو علمائے کرامو يو بورډ جوړ کړے وو او پخپله نگرانئ کښې ئې د فقهٔ حنفي يوه انسائيکلو پيډيا جوړه کړې وه کومه چې د "فتاویٰ عالمگيري" په نوم مشهوره ده- تاريخي طور دا خبره په يقين سره کيدے شي چې په هندوستان کښې د دې نه پس د علمائے کرامو يوې بَلې ډَلې که په شريکه يوه انسائيکلو پيډيا جوړه کړې ده نو هغه "آئينِ احمدي" ده، کومه چې د حضرت اچهے مياں رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په حکم باندې د هغوئي د مريدانو او خلفاؤ، علماء او فُضَلا يوې ډَلې په شريکه جوړه کړې ده- په عالمگيري انسائيکلو پيډيا او آئينِ احمدي انسائيکلو پيډيا کښې يو بنيادي فرق دا دے چې حضرت عالمگير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه صرف د فقهٔ حنفي په مسئلو او جزئياتو مشتمل کتاب جوړ کړو ولې د دې انسائيکلو پيډيا شان دا دے چې په عُلومِ مُتَدَاوِلَه (مشهورو او رائجو علومو) کښې يو علم او هنر داسې نشته کوم چې په دې کښې ليکلے شوے نه وي- د دې کتاب د ليکلو لړ کښې قاضي غلام شبر قادري ليکي چې: د خلفاء او مريدانو نه (د حضرت اچهے مياں رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې) د علمائے کرامو يوه ډَله حاضره ده، هغوئي اوفرمائيل: که چرې د سرکارِ مارِهره کتب خانه (يعني لائبريري) څوک پوره ليدل غواړي نو ډېر زيات وخت به پکار وي- مناسبه دا ده چې تاسو کوشش اوکړئ او د کتب خانې نه د مختلفو علومو او هنرونو کتابونه منتخب کړئ او د هر هنر خلاصه په کومه کښې چې د هغې ضروري خبرې وي جوړه کړئ د پاره د دې چې څوک هغه خلاصه اوګوري نو چې هغه د ډېرو کتابونو او ليکوالو د تحقيقاتو نه خبر شي- د هغوئي په حکم باندې يوې ډَلې عمل اوکړو او يوه مجموعه کومه چې تقريباً ديرش (30) او د يو قول مطابق په شپته (60) جلدونو مشتمله وه پوره شوله د هغې نوم آئينِ احمدي کيښودے شو- په دې کښې د ډېرو بزرگانو متون (يعني د يو کتاب، مضمون يا دستاويز وغيره اصل عبارت) ورېږ او لوئي ډېرې رسالې پوره موجودې دي، بعضې مضمونونه د خلاصې په طور دي- ما د ذکرونو او وظيفو د اصلي نسخې زيارت کړے دے په کومو چې چرته نا چرته د حضرت دستخط (لاس ليک) مبارک او هدايات دي- افسوس چې دا د لعلونو پيللے شوے هار منتشر شوکنې نو ډېر لوئي نعمت

وو- د دې نه اندازه لګي چې آئينِ احمدي صرف يو کتاب نه دے بلکه د ځان دننه يوه مکمله کتب خانه (لائبريري) ده- خو افسوس چې د علومو او هنرونو دا بے مثاله انسائيکلو پيډيا محفوظ پاتې نه شوه-

(تذکرۂ شمسِ مارهره، ص 38 بتغير)

## چې مُريد وي نو د اعلیٰ حضرت پشان دې وي

د حضرت مولانا سيّد ابو القاسم اسماعيل حسن شاه جي مياں صاحب مارِهروي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان دے چې يو ځل د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د حضرت مولانا عبد القادر صاحب بدايوني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ترمينځه په يوه مسئله باندې علمي بحث اوشو- چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه د دريځ (موقف) منلو نه انکار اوکړو نو هغوئي اوفرمائيل زما سره سيتا پور (اتر پرديش) ته لاړ شئ- هلته د حضور جدِ امجد سيدنا شاه آلِ احمد اچهے مياں صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کتاب آئينِ احمدي جلد عقائد زما په کُتب خانه کښې موجود دے او د نورو صوفيائے کرامو کتابونه هم موجود دي په هغې کښې فرق اوګورئ چې زه چې څه وايم صحيح وايم يا څه چې تاسو فرمائيئ هغه صحيح دي- دواړو حضراتو (سيتا پور) ته تشريف راوړو- اوّل اوّل خو مولانا عبد القادر صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د آئينِ احمدي جلد عقائد نه زمونږه د پيرانو د سلسلې سره تعلق لرونکي حضرت سيّدُنا احمد صاحب کانپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کتاب "زبدۃ العقائد " راويستلو او هغوئي ته ئې اوښودلو- چې دا ئې اوليدلو نو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو چې "زه بغير د دليل نه دا خبره منم که څه هم دا اختلاف د استدلال په وجه زما ذهن ته نه دے راغلے خو دا چې زما عظيم مرشدان دا خبره کوي نو ځکه زه د خپلو عظيمو مرشدانو خبره منم-" (حياتِ اعلیٰ حضرت، 1/103-105 ملتقطاً) دا د ابتدائي دور خبره ده بيا هغوئي دغه د (آئينِ احمدي والا) دريځ په (خپل کتاب) "اَلْمُعْتَمَدُ الْمُسْتَنَد" کښې په تفصيل سره او مُدَلَّل انداز کښې هم بيان کړو- ( حيات اعلیٰ حضرت، 438/1) د د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نامه سے رضا کے اب مِٹ جاؤ بُرے کامو | دیکھو مِرے پَلّہ پر وہ اچھے میاں آیا
بدکار رضاؔ خوش ہو بدکام بھلے ہوں گے | وہ اچھے میاں پیارا اچھوں کا میاں آیا

شرحِ کلامِ رضا: اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل دې کلام په مَقطَع (يعني د آخري شعر) په وړومبۍ

مصرعه کښې عاجزي او انکساري کړې ده او ځان ته ئې "بدکار" فرمائيلے دے کوم چې يقيناً د هغوئي د کمال عاجزئ او د خپل پير او مرشِد سره د زيات عقيدت او محبت اظهار دے- عاشقانِ رضا عرض کوي:

بدکار گدا خوش ہو بد کام بھلے ہوں گے　　　　دیکھو میرے پلّہ پر وہ احمد رضا خاں آیا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اولاد مبارک

د حضرت شاهِ آلِ احمد اچهے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نکاح د حضرت سيِّد شاه غلام علي صاحب بلگرامي د لور "حضرت بي بي فضل فاطمه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها" سره اوشوه، هغه ډيره نيکه بي بي وه- د هغې نه ورته الله پاک يو ځوي او يوه لور ورکړل- لور ئې په 11 ربيعُ الاوّل 1196 هجرئ وفات شوه او ځوي حضرتِ سيد آلِ نبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ئې پيدائشي وَلي وو (په وړوکوالي کښې) چې به ئې څه هم د خُلې نه وتل الله پاک به پوره کول [1] د هغوئي د رسمِ بسم الله شريف نه پس تَبه شوه هم په دې وجه په 13 ربيع الاوّل 1196 هجرئ وفات شو- (تذکره مشائخ قادريه ، ص 364) د يو قول مطابق د ځوي د وفات شريف نه 28 ورځې پس په 11 ربيع الآخر ئې لور صاحبه وفات شوه- (احوال وآثار حضرتِ اچهے مياں، ص27) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د مُريدانو شميره او د يو څو خلفاؤ نومونه

د حضرت اچهے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مريدانو شميره د يوې اندازې مطابق دوه لاکهه ته نزدې ده- (تاريخ مشائخ قادريه ص 364) په خاندانِ برکاتيه کښې د هغوئي د يو څوو خلفاؤ نومونه دا دي:

(1) د حضور اچهے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګشر وررور حضرت سيِّد آلِ بَرَکات المعروف ستهرے مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې د هغوئي نه پس د سلسلهٔ برکاتيه سجاده نشين شو-

---

[1] ... په وړوکوالي کښې د خُلې نه د وَتلې خبرې پوره کيدل د ډيرو بزرګانو نه ثابت دي بلکه په کوم عمر کښې چې ماشوم خبرې هم نه شي کولے په هغه عمر کښې هم د ډيرو ماشومانو خبرې کول ثابت دي-

(2) د حضور اچھے میاں ګشر ورور حضرت سیّد شاه آلِ حسین سچے میاں رحمۃُاللہِ علیہ

(3) حضرت سیّد شاه آلِ رسول رحمۃُاللہِ علیہ ، هم هغوئي هغه مبارک شخصیت دي د چا نه چې سیّدي اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ بیعت اوکړو او د هغوئي مشهور فرمان دے چې که چرې د قیامت په ورځ زما رَبّ زما نه پوښتنه اوکړه چې څه دې راوړي دي؟ نو زه به "احمد رضا" وړاندې کړم چې مولا! دا مې راوړے دے- ( انوارِ رضا، ص 378)

(4، 5) حضرت سیِّد شاه اولادِ رسول قادري مارِهروي او حضرت سیِّد شاه غلام محيُ الدّين رحمۃُاللہِ علیہما ، دا دواړه حضرات د حضور اچھے میاں رحمۃُاللہِ علیہ وریرونه دي-

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د کامل پیر لټون

د حضور اچھے میاں رحمۃُ اللہِ علیہ د خوښې خلیفه حضرت مولانا شاه عبدُ المجید عینُ الحق رحمۃُ اللہِ علیہ په سلسلهٔ بیعت کښې د داخلیدو واقعه ډیره خوندوره ده- هغوئي د ډیرې مودې نه د پیر په لټون کښې وو خو په چا به ئې زړه اوبه نه څکلې- چا ورته د حضرت اچھے میاں رحمۃُ اللہِ علیہ نوم مبارک اوښودلو- هغوئي مارِهره شریف ته تشریف یوړلو او یو څو ورځې ئې د هغوئي په خدمت کښې تیرې کړې خو آخر ئې هلته هم زړه مطمئین نه شو- په زړه زړه کښې ئې وئیل چې دا ټول د خوړلو څکلو والا تکي دي، بنده د داسې فقیرئ قائل نه دے- آخر د هغه ځائے نه خپل وطن بدایون ته روان شولو- د بدایون سره نزدې د خواجهٔ خواجګان حضرت خواجه حسن شیخ شاهي المعروف بړے سرکار رحمۃُ اللہِ علیہ آستانې ته چې اورسیدلو نو هغوئي اولیدل چې حضور غوثِ پاک او شیخ شاهي رحمۃُ اللہِ علیہما تشریف راوړو او هغوئي ته ئې اوفرمائیل: عبدُ المجید! که په ټوله دنیا کښې ډیوه واخلې او لټون شروع کړې نو بیا به درته هم د سیِّد آلِ احمد نه ښه پیر میلاؤ نه شي- بس هم اوس واپس لاړ شه او د سیّد آلِ احمد مُرید جوړ شه- هغوئي د هغه ځائے نه زر مارِهره شریف ته حاضر شول او د بیعت خواهش ئې ښکاره کړو- حضرت اچھے میاں رحمۃُاللہِ علیہ ورته اوفرمائیل: "میاں! ته خو مولانا ئې، په مُریدئ څه کوې؟ دا خو د څکلو خوړلو تکي دي"- (د زړه په وسوسې باندې په پوهیدو ئې) مولانا صاحب په ښپو پریوتلو او د خپل قصور معافي ئې اوغوښتله، اچھے میاں رحمۃُ اللہِ علیہ په سلسلهٔ قادریه کښې داخل کړو او مثالِ خلافت او خرقهٔ خلافت ئې ورله هم ورکړو او اوئې فرمائیل چې ته په لاره وې چې پیرانِ پیر، پیرِ دستګیر رحمۃُاللہِ علیہ تشریف راوړو او ماته ئې

اوفرمائيل: مولانا عبد المجيد راځي ته هغه مُريد جوړ کړه او مثالِ خلافت ورله ورکړه- (برکاتِ مارهره، ص 80 بتغير)

واه کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا | اُونچے اُونچوں کے سَروں سے قدَم اعلیٰ تیرا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب | صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## برَګي مرض والا ښه شو (کرامت)

د حضور اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بارګاه کښې يو ځلې د برَګي مرض ښکار سپاهي حاضر شو او لرې اودريدو- هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته اوفرمائيل: "وروره وړاندې راشه؟" هغه عرض اوکړو: حضور! زه د دې قابل نه يم- بيا ئې اوفرمائيل: وړاندې راشه- هغه ګس چې وړاندې راغلے نو په کوم ځائے چې ئې سپين داغ وو حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پرې خپل مبارک لاس کيښودو او ارشاد ئې اوفرمائيلو چې دلته خو هيڅ هم نشته- چې سپاهي هغه ځائے ته اوکتل نو سپين داغ بيخي ورک شوے وو- (تذکره مشائخِ قادريه رضويه، ص 362 بتغير)

اے مرے اچھے کے اچھے مجھ کو بھی اچھا بنا
صدقۂ اچھے میاں احمد رضا خاں قادری

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب | صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

(نوټ: د حضرت سيّد آلِ احمد اچھے میاں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ارشاداتو او کراماتو باندې مشتمله د دې رسالې دويمه برخه به بيا جاري کولے شي)

## اگلے ہفتے کا رسالہ




مدنی چینل

DAWAT-E-ISLAMI

عالمی مدنی مرکز فیضان مدینہ محلہ سوداگران پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net